به همين علت بودکه تظاهرات معيوبين آغاز شد ومسئولين امور هيچ جواب مثبت درمقابل آن ارائه نکردند ويا يکتن از آنها حاضر نشد که با دلجويي از معيوبين مشکلات خود را براي ما بيان کند وما را قناعت بدهند بخاطر اينکه جوابي نداشتند نه تنها اينطور نشد بلکه پاسخ معيوبين بيچاره را که حقوق مشروع خود را مطالبه ميکردند با فيرمرمي ولت وکوب توسط افراد مسلح جواب دادند وتعدادي را بندي کردند تا فعلاً درك آنها معلوم نيست شما خود بگوييد که ازاين حکومت چه توقعي درآينده ديگر هموطنان داشته باشند اينها ميخواهند بمانند حکومتهاي سابقه بازور سرنيزه صدا هاي حق طلبانه مردم را درگلو خفه سازند وديکتاتوري زمانهاي گذشته را که بخاطر آن ما قيام کرده بوديم دوباره اعاده کنند که سلسله گرفتاري وبندي کردن معلولين ومعيوبين بنام مزدورکمين تاامروز ادامه دارد.

باشنيدن اينحرفها خيلي متاثر شدم وراستي هم مردم ما حق دارند که دست به چنين اعمال خشونت بارکه بخاطر اعاده حقوق مشروع شان است در مقابل بي دردهايي مثل اينها بزنند به سرمداران ومسولين حکومت موقت لازم نبودکه با اين بيرحمي جواب اين مظلومين قهرمان را ميدادند بلکه درهمين گفت وشنود بوديم که چندتن از افراد مسلح که موهاي ژوليده وابزارهاي بلند تا زانو ها داشته با سلاح کامل آمده وداخل جمعيت شدند تونگر ميکردي که اينها داخل سرو ها ي دشمن مي شوند وباخشونت کامل دشمن را گرفتار ميکنند اما برخلاف اينها کساني بودند که بخاطر دستگيري معلولين آمده بودند درهمين اثنا چندتن ازمعلولين را بيباپدا خته وبطرف صدارت کشان کشان بردند.

حوت خوانندگان وهموطنان عزيزا شماخود فکرکنيدکه اين اعمال ميتواند ازطرف کسي که اندك ترين ايمان وغيرت ووجدان داشته باشد تائيد شود معيوبين که بايد به صفت قهرمانان جهاد اسلامي ما دلجويي واحترام شوند به اين قساوت لت رانده لت وکوب وبندي مي شوند بخاطر اينکه حالا همه بقدرت رسيده اند.

جوکي را اشغال کرده اند وبه شهرت کاذب رسيده اند آنهم درملك مردم ومردم امروز احتياج آنهاشده اندباند همينطور رويه کنند.

بخاطر اينکه اينها حکومت اسلامي را قايم مي سازند ومردم آزادي ميدهند شايد الگوي حکومت آينده شان همين باشد بسيار مضحك است ورنج دهنده ، بقيه قضاوت ها را مي گذاريم به ملت هوشيار ومسلمان ما. والسلام.

له کمونيزم او(لينن) نه...

کارګر اوسربازان ، هو، زرګونه خلك له لوږي مري هيڅ داسي تبه نشته ، چي انقلاب دنوروپه تناسب په پرګنو کي دعمدردي ټولنيزاحساس تاتلين کړي، فتسوي قدرت موندونکي، عمانومره بي رحمه اوخبيث دي، لکه پوځيني تردي لا زيات داچي ويريسي سواده اوپروتاله دي، خلکوته دقدرت له چاروپرته تووروژونکي زهرنشته .

بايد په يادولرو، هسي نه چي قدرت مسموم کړي، اومونږداسي په سپي وژونکو واړوي . چي له هغو خلکو په مرتبو وپرشريروي، چي ټول عمرمونږسره مبارزه کړيده ،

هغه مطالب چي ګورکي يي ده بي وخت فکرونو ترساده عنوان لاندي دکمونستانو دحکومت په پوهيوکي دروس دخلکو دقتر اوولږي په باب ليکي ، ويرغچيبه اوويرووتکي دي ، ګورکي دانوورسيدلو انقلابيانو، دبي تفاوتي په باب ليکي : « موبډروشانفکرو پخپل حال دپريښودلو چي له (قحطي اوولږي) وصري، دروسيي معنوي پانګه تلف کوو، همدا ډول دناولو اولاسدو بيروکراتانو تازه توکم اوخطرناکو شوانانو روزنه کوو، چي هره ورځ دوژلو، ټکولو، وهلو، سپکولواوقتلخ کولو په څوتيپرميدانونو پوري له عدالت اومحدردي پرته خنداکوي ».

د ۱۹۱۸ کال په پسرلي کي چي اوضاع لاپسي کړکيچنه کيږي، ګورکي داوخت ليکي :

« يوه واکتره چي تول عمرد دهقاني شوراد واکتري په عنوان دخلکو په خدمت کي وه ، دولړي ، بي څوکي، او دپوره کثافت له کبله بي روح والوت ، اوپه يوه تياره اوغمناکه کوټه کي يي دمرګ په شيبوکي ووييل: ولږه له دي زياته چي تصورمي يي کاو، غمونکي ده . دورګياوي لوستونکو دخپل سهمي څه برخه ورته ويوړه ، چي له دي بشځي سره هرسته وشي، شونوريي دغه وخت بدن له ولوي اوسيږوته ګورولوشوی و ».

پسرولوسورګنګوګ مشهورپنځه اوياکلن طبيب هم دلوږي له سختي مړشو، که څه هم دقرانسي لوی انقلاب مشهورکيمياپوه « لاوازيه » له پښوونغورځاو، خودولږي له سختي نه يي پوهان دنيستي کنل ته ونه ليږل امکان لري ، ځيني هيښ لټوونکي وايي، اول ناآرامه يي ؟،

اشرپرولتيسورخوپنځه اوياکلن و، زماځواب دادي چي د «اوپوخوف» په روغتون کي چي کومو خلکو ساه ورکړه ، له نيمونه زيات يي له شلونه ترديرشو کالو دعمرعادي کارګران وو، چي هره ورځ يي دري زره کالوري ته اړتيالرله، خوشش له پنځو سوونه ترشپږسووپوري و رسيدله . چي زياته برخه يي ددغه ورنه وه هره ورځ به هغه جسدونه له کوڅوراټوليدل ، چي په ولږه به وژل شوي وو، روښانفکران ويرژرخپل وژن له لاسه ورکوي ، اودفکري کارونو لپاره يي خواك په چټکي تحليل ، خراب اوکمزوري کيږي . زموږهيوادلي بل هرڅه زيات دغه خلکو ته اړدي . پتروګراد زمويدروښانفکري ژوند منبع ديوه مړه شارپه شکل اوښتي دي ».

دګورکي هڅاسنو لينن په قهرکي، خودغه دي ته ميخ مايل نه و ، چي ټول خلك يدي خبره پوه شي ، چي دانقلاب ليکوال دانقلاب په وړاندي ولاړدي ، همداوچي زياريي ګاله چي دبوي لاري نه ، بوي لاري ته هغه چوپ کړي، کوشش يي وکړ چي دچاپي موادو په برابرولو تاسيسات تواياژيزن ، کي اختصاصونه اومساعري رامنځ ته کړي ، څو ورګياني شپلو خپرولو ته هماغسي دوام ورکړي، اوګورکي مضامين چي دزړګوتوبي ژبو خلکو ژبه وه ، د يي وخته فکرونو ، ترعنوان لاندي يي په تيراژکي لاپسي زياتوالي راغي .

لينن دکالندنهي په ورځپاڼي بنده کړه ، ګورکي دچاپ لوازم له فنلينده راولوښتل چراودا پرګورکي ودانګل ، چي مصارف يي «پانګوال» پري کيږي ، خوګورکي ورته ټاپش ماتوونکي ځواب ورکړ .

پرولتيسره موروکين ، هم چي ويروخت يي دترازاودغه دناسدي عسل سره په جنګ تيرکړي و، ليروسته يي دي ته پام شو، چي کمونستان له ترزاري ماموريتو نه په مرتبو، مرتبو، ويرورسترګي، ويرفاسداوويرپي رحمه دي . دانقلاب په وخت کي دپوهنتون په تدريس اخته و، خو تشدد يوله کرنلاري سره سخت مخالف و، اوهمدالامل شو، چي دمارکيستانوپرضد چي ترهرڅه زيات يي تشدد تبليغاو، په يوې پراخه مبارزي پيل وکړ، هغه خپل خاطرات داکتوبر دانقلاب دشوي پاتوپه کتاب کي خوندي کړي، چي د «چکا» په تمامه دروس دپټه پوليسي سازمان دماموريتو دبي رحمي کيسي کوي هغه پخپلو ليکنوکي دپتروګراد دښاردقتراوولږي په باب داسي ليکي :

« په مسکوکي له خوړوڅي ځند وروسته پتروګراد ته لاړم ، هغه څه مي چي د «نيکولايوسکي» په تم ځاي کي وليدل، ويرکرکجن اووحشتناك وو، زمانه يي په ژورغم اوردردکي ډوب کړي، داسي وو، لکه وياوطاعون چي دابناروځپلي وي ، ته تيانګسي وي ، اوښه رپيل ګاډي ترسترګوکيدل . ترډي چي دتموتي اپاره يوه مغازه هم خلاصه نه وه ، دروازو اودکړوړونو اوهغازو ماتو پنجروپه ټبټه کول ، چي ويروخت کېږي ، چي متروکي اوبي ځاونده پاتي شوي دي .

شوددي ښارخلك ، څه خلك ؟ يوه ډله وحشت ځپل په شليدلو اوشيرونو جامو کي ګرځيدل راګرځيدل ، اوله حالته يي داسي ګرګنديدله ، چي فقراوولږي کوچني کړيدي ، په کوڅوکي يي دتګ په وخت له سړونو اومشونوته ځپګان اوبدبختي ځځيدله .

زړي ښځي اوزاړه سړي دکوڅي په خاوروکي دتيروپه فرش ناست وو، که څه څوواره به يي خپل لاسونه لاروته په څه هيله اوتماس وراوږدول، اوپه لمنځنو اوازونوبه يي ويل: دخداي (ج) په هيله مونږته يوکپ ووړي راکړي ، خومچاڅه ته ورکول ، اودغوي خواته يي ويره کړ پاملرنه هم نه کوله . څه وخت چي د «ليسي نايا» په کوڅه ورتاوشوم، يوسړي اويوه ښځه مي وليدل، چي په ويرتکليف يي څه شي ځان پسي راښکوده ، اودغه دپاسه تابوت ايښي وو».

هو، داهماغه موعودجنت ؤ، چي مارکسيزم يي دودانولو وعده کړې وه ، اوله منګت راتلووروسته يي په وړاندي عمالمه باشمبره مبلغين ودريدل، چي دغوي دليکنوپه برکت همدلي ليرانساني فکردخلکوپه زړونوکي ځاي نيول و. که ايري لاړنشو، اوپه افغانستان کي دلاسپوځي پلورل شوي « لايق » آثاروګورو، نوويري ليکني به پکي دګورکي د «آثاروترجمه وي . داهماغه ګورکي دي ، چي په روس کي يي دکمونيزم دخباثت څيره پورته کړي وه .

راغلي ليکونه

معيوبينو څخه وپوښتل شي چي دسرطان دمياشتي په ۱۶ـ۱۷ـ ۱۸ او... ورځوکي ستاسي څومره کارسرته ورسيد؟

موږڅوچي ديوه معيوب نه پوښتنه وکړه هغه داسي ووبيل : «وروره ! زه څه درته ووايم، اوس اسلاً جنجال دحضرت او سياف ترمنځ دي ، داموخلته ورلېږي اوهغه دلته ، سياف راته نيمايي معاش راکوي وايي که دانه اخلي نوحضرت ته ورشي هلته چي ورشوهغه راته وايي له سياف نه يي واخلې . پدې شکل داڅو ورځي سرګردان ګرځو، زماخپله ۵۰۰ روپۍ مياشتيني معاش، ددې سختي ګرمي پرته چي تاسي يي وينئ زه هره ورځ پنځوس روپۍ په کرايه اوخوراکه لګوم اوسرګردانه ګرځم ».

موږ دمعيوبينوداري ته وايو چي ستاسي دفترکه دسياف اوحضرت دکشمکش په خاطرتړل شوی اوکه تاسي پخپله تړل و، خوبه هرصورت په دفترکي کارنه و. خوموږخپل خبريال په يوه شي ګناصراوملامت ګڼوچي دماموريتودنه کارکوونو اصلي علت (دسياف ، حضرت کشمکش) يي نه وو ذکرکړی.

دليك په دوهم پراګراف کي داپه صراحت تائيدشوي چي په ۱۷ مه نيټه معيوبانوللفال اومظاهري وکړي اوداهم کاملاً تائيدشوي چي دمظاهري علت دمعاش کموالي و، زموږخبريال هم ترډي زيات څه نه دي ويل ، هغه ويل چي دسرطان په ۱۷ مه نيټه معيوبانودخپل معاش دکموالي په خاطرمظاهري وکړي.

دليك داپرخه چي وايي موږد معيوبينو له نمايندګانو سره (دهرتنظيم په سر دوه دوه کسان) دمعاش دکموالي په اړه خبري وکړي داخبره په ډاګه کوي چي مظاهري ټولو معيوبانوکړي اوټول ناراضه دي اوکه نه نودځوتنود غالفال له امله څنګه کيداي شي چي دټولو معيوبينوله نمايندګانوسره خبري وشي .

دليك په دريم پراګراف کي يوځل بيا کله چي وايي: « دروغګوحافظه ندارد» دخپل ليك مقدمه ردوي اوزموږ دخبريال ګزارش تائيدوي خوپدې توپيرچي که څه هم چي دوي دپخپل ليك کي مسئله بنه ملصله ليکل مګر پرمظاهرچيانوباندي دصدارت دانظباطانو دډزوخبره يي پټه کړي ده، دوي ليکي چي مظاهره کوونکوپه دفترباندي تيري واوړول اوپه نتيجه کي دوه پټيمان اويوه

کونډه زخميان شول دزخميانوټکي په ګزارش کي نه وو ذکرشوي خواوس چي پټه والګيده نوموږ له دوي نه داپوښتنه کوو چي آيا دغه پټيمان اوکونډه دمظاهره کوونکو په ډبروزخميان شول اوکه دصدارت دامنيتي ګارډ په ډزو؟ دشکل نه ښکاري چي دغه کسان دي په ډزوزخميان شوي وي څکه چي مظاهره کوونکو څو ځپل ملګري په تيږونه ويشتل اويادي دوژوله ويري دمظاهروکوونکو تيټ پرك کيدوپه وخت کي ترپښولاندي شوي وي .

همدارازليك دانه ردوي چي مظاهره کوونکوداد ي ويل چي «موږدوي داپي کفايته عبوري حکومت » خوداورسره زياتوي چي ويل يي « موږدوي تپي اوسکرېيستان » داخبره څپله دمتحل شوي عبوري حکومت پرضد شمارتائيدوي څکه چي معيوبينو ته دابنه معلومه ده چي دغه عبوري حکومت ټول دسکربيستانو څخه جوړ دي اوهمدا سکربيستان دي چي ددوي معاش يي ميايي کړي ، اوداچي په شعارکي يي تپي ورسره ملګري کړي . اول خوداچي داچاته دي اوريدلي اوکه وي هم خودادي په خاطرډي چي اکثره سکربيستان دتپي له کودتانه وروسته راتلل اوپه منحل شوي عبوري حکومت کي ځاي په ځاي شويدي تومعيوبين دخپل معاش دکموالي اصلي علت تپي اودغه کودتاپول توڅکه له سکربيستانو سره دغه نوم هم اخلي ، اوکنه نو داشعارد معيوبينو په مظاهروادمعاش په کمبودپوري اړه نه لري .

اوداچي په ليك کي ويل شوي چي دصدراعظم کارګاي په ډبرونه دي ويشتل شوي بلکي په څنګ کي دمعيوبينو رياست په ډبرو ويشتل شوي . مورواپو شرنګه چي معيوبين په صدارت پوري تړل اودفتريي هم په صدارت کي وي اوياد هغه په څنګ کي واقع دي ، داچي دصدارت دڅنګ دفتر په ډبرو ويشتل تائيديږي نوخپله دصدارت دفترپه ډبرو ويشتل تائيدوي څکه چي اصل مظاهره دصدراعظم په خلاف وه اومظاهرچيانو صدراعظم دمعاش دکموالي مسئول ګڼه .

دپاملرنې اوډتعجب ورخبره داده چي دمعيوبينو رياست په خپل ليك کي پرمونږباندي ددي تشيي په اړوند داباطلو اواکاذيبو نشرولو تورلګوي اوپه همدغه ليك کي دګزارش ټول اساسي نقاط يعني دصدارت تعميرپه ډبرو ويشتل او معاشونو ته دکموالي په اثر مظاهري ټول تائيدوي.

که داليك په خپل داتورچي موږ باطل اواکاذيبه ددي تشيي په هکله نشرکېږيدي ردکړي نه واي ، موږ مجبورو چي درئيس صاحب دلتاعت حاصلولو لپاره عکسونه نشرته وسپارو له نيکه مرغه درئيس صاحب اعتراف ددې شي احتياج رفع کړي .

اوبل دتعجب خبره داده چي دمظاهرو تحريك کوونکي الحديديان بودلي داشاره شايد هغه تنظيم ته وي چي ويل کيږي په هغه کي دالحديدکسان نفوذلري . نو ددي مظاهرو په هکله بهتره وه چي دهغه تنظيم دمسئولينو سره خبري اتري وکړي .

په هرصورت موردمعيوبينو داداري له متصل معلومات نه منته کوو خوهيله ده چي دسرطان دشلمي ، پيوويشتمي اودوه ويشتمي ورځوګزارش هم راوليږي دګزارش تررسيدوپوري دغملاً لپاره دانامه ولول .

ضروري تصحيح

دشهادت درنولوستونکو دشهادت د (۲۳۶) ګڼي په شپږم مخ کي دراغلي ليکونو ترسرليك لاندي دلومړي ستون (۱۱) کرښه داسي ولولي ولوي خداي (ج) زمونږ ملت ته ددي وياړورياښه چي دجهاد په برکت يي وکړلاي شول چي دشلم قرن طاغوت ته ماتي ورکړي .

نه نجيب منو اونه ظاهرشاه

شهادت :

دسدي څخه په رارسيدلي رپوټ کي ليکل شوي چي دسه شنبي په ورځ د روان کال دچنګاښ په دولسمه نيټه د سدي دشنو په کمپ کي خلك په ذوق اوعلاقي سره دلوي اختردلمانځه دادا کولو په خاطر دمولوي صاحب حنيف جومات ترڅنګ دهجرت هغي دولس کلني عيدګاه ته کوم چي په بولوي خوږواقع ده راټل دلمانځه نه مخکي مولوي صاحب حنيف خپله عالمانه وينا حضارونه واروله داختر دلمانځه اوقرباني داحکامو بيانولو څخه وروسته دهيواد په اوسني حالاتو دړنا اچولو په ترځ کي داسي ووبل :

هغه کسان چي په ښکاره اوياپټ نجيب ته هيلتونه ليږي اووايي چي څه فرق کوي که په افغانستان کي دا ورتنظيمونو حکومت وي اوياد نجيب داکسان ګمراه شويدي.

قرآن فرمايي چي هغه کسان چي مسلمان وي . بياکافرشي اوخپل کفرته دوام ورکړي دهغوي توبه نه قبليږي دابه څوك وي چي قرآن حکم ته تغيير ورکړي هيڅوك نشي کولي چي دالله حکم ته تغيير ورکړي.

مولوي صاحب دخپلو خبرو په جريان کي زياته کړه :

دنجيب په شان کافرانو کمبي ته هم لاړشي سل ځله دجوماتونو دجوړولو خبري هم وکړي هغه اوس ملت ته څرګنده دي موږ په هيڅ صورت هغه نه شو منلاي.

وروڼو! موږ به حق بيانوو اودحق په بيانولو کي له هيڅ چانه ويره نه لرو دا دظاهرشاه منحوس رژيم ندي چي د عالمانو خولي به يي بندولي او چابه حق نشو بيانولي.

دخبرونه وروسته داختر لونځ دمولوي صاحب لعل جان په امامت اداشو داختر دلمانځه تر ادا اوخطبو وروسته مولوي صاحب لعل جان دهيواد په سياسي حالاتو باندي رڼا واچوله اودخپلو خبرو په يوه برخه کي داسي ووبل :

که په افغانستان کي بيا هم خانه داني حکومتونه قبول کړو زمونږ دملك حالت به بلکل خراب شي بيابه دهغه کورني څخه پرمونږ باندي حکومت کوي به همدي خاطر نه ظاهر شاه منو او نه هغه کورني اونه سلطنتي نظام هغه زياته کړه دافغانستان دقضيي دحل بوازيني لياره دانتخاباتو لاره ده له دي نه پرته دحل بل هيڅ لارنشته زمونږ رهبران بايد دملت رائي ته رجوع وکړي اودابي وزلي ملت ته ددي حق ورکړي شي چي خپل سرنوشت په خپله وټاکي دانتظيمونه بايد له خداي څخه وويريږي اوزمونږ حق نه چي هغه دراتلي ورکول دي غاړه کيږدي اوکه نه نو دقيامت په ورځ به زمونږ لاس اود دوي ګريوان به وي . او خپل حق به دخداي په حضورکي له دوي څخه غواړو.

دمولوي صاحب دخبرو په پاي ته رسيدو داختردلمانځه مراسم پاي ته ورسيدل.

د محصلینو په تربیتي سیمنار کي د ورور حکمتیار د تفسیر درس

«وابراهیم اذقال لقومه اعبدوالله واتقوه ذلکم خیرلکم ان کنتم تعلمون »

اوابراهیم علیه السلام موهم ولیږلو «اذقال لقومه » کله یې چی وویل خپل قوم ته چی دالله عبادت وکړی اوله هغه نه وویریږی حضرت ابراهیم علیه السلام هم خپل قوم ته همدغه دعوت ورکړی ، دخدای دعبادت اوپرستش اوله هغه نه ویره اوتقوا ذلك خیرلکم ان کنتم تعلمون .

داتاسولره غوره ده که تاسو پوهیږئ ، ټولو پیامبرانو خپل قوم ته دهمدی خبری دعوت اوبلنه ورکړیده ، دالله عبادت اوپرستش له هغه نه ویره اوتقوا اودپیامبرانواطاعت او منته ، عبادت یعنی مریی توب ، عبادت له عبدنه اخیستل شوی . عبد مریی اوغلام ته وایی . مریی هغه څوك دی چی اخیستل شوی وی ، بل چاهغه اخیستی وی ، هغه دخپل ځان مالك ندی بلکی بل څوك یې آقا، مالك اوبادار دی ، هغه په خپل ژوند کی هیڅ شی خپل نلری ، دهغه په اختیارکی چی څه دی هغه دبل امانتونه دی ، په دی امانتونو کی چی هغه څه تصرف کوی په خپله خوښه یې نشي کولای ، دخپل آقا، مالك اوبادار دحکم او دستورسره سم به په هغه کی تصرف کوی . په ژوندکی چی څه کوی هغه دخپل آقارضااوخوشحال لپاره یې کوی ، هغه ددوست اودښمن په هکله پخپله فیصله نشي کولای ، بلکی دده دآقادوست یې دوست دی اودښمن یې دښمن دی ، دانشي کولای چی دخپل آقااوباداردوست دی په دښمنی ونیسی اویاله دښمنی سره دی دوستی وکړی داکارېغاوت دی . الله جل شانه دمسلمان لپاره ، دمومن لپاره همدغه نوم انتخاب کړی . دعبداودعبادت معنی داده چی انسان ځان دخپل خدای مال وګڼی اوالله دځان مالك وګڼی . لکه چی قرآن عظیم الشان دمسلمانانو په باب فرمائي: «ان الله اشتری من المومنین انفسهم واموالهم ». لکه چی غلام اخیستل کیږی همداراز الله جل شانه مومنان دجنت په بدله کی اخیستی اوهغوی هم په خپل ټول ژوندکی دالله رضا لټوی .

«یبتغون فضلامن الله ورضوانا» دالله فضل اودهغه رضالټوی اوهغوی له خپله ځانه فیصله نشي کولای .

«ماکان لمومن ولامومنه اذاقضی الله ورسوله امراً ان یکون لهم الخیره من امرهم».

مومن نارینه اوښځی لره نه ښائي چی کله خدای اودهغه پیامبر دیوکارپه باب پریکړه اوفیصله وکړی ، پادوی نه ددوی دکارپه باب اختیاروی ، نوبیاله هغوی نه دکاراختیارسلب کړی ، بیابه هغوی چاراوناچاراطاعت ارمنتاده وی .

همدارازقرآن عظیم الشان فرمائي چی تاسو به یومؤمن قوم داسی ونه ګوری چی هغه دی له هغه چاسره دوستی وکړی چی له خدای اود هغه له پیامبر سره دښمنی کوی . ټول هغه صفات چی دیومریی په هکله مونږپېژنو، الله جل شانه هغه دمسلمانانو په باب ذکرکوی .

پس عبادت یوازی څولحظو لپاره دخدای پرستش ندی ، بلکی دالمام اوشامل مفهوم لری ، دانسان ټول ژوند احتواکوی او همداوجه ده چی قرآن عظیم الشان فرمائي چی مونږ جن اوانس ندی پیداکړی مګر دعبادت لپاره ، که عبادت دانسان ټول ژوند احتوانکړی نوالله جل شانه فرمائي چی مونږ هغوی صرف دعبادت لپاره پیداکړی ، یعنی دانسان ټول ژوند دخدای عبادت وی . ناسته پاڅه ، خوراك ، تګ راتګ ، دوستی ، دښمنی یې هرڅه یې باید عبادت وی چی که انسان داټول دخدای ددین مطابق ترسره کوی ،دهغه ټول ژوند عبادت دی .

پیامبران راغلل اوخپل قوم ته یې همداویل ، دالله عبادت وکړی اوله هغه نه وویریږی . همدادهغه عبادت اوله هغه نه ویره اوتقوا داتاسولره غوره ده که تاسوخدای اطاعت اوبنده ګی اوله هغه نه دویری اوتقوا په انجام پوه شی .

انما تعبدون من دون الله اوثاناًوتخلقون افکاً .

خبره داده بله نده چی تاسو دالله نه پرته عبادت اوپرستش کوی «اوثانا» دبتانو «وتخلقون افکا» اودروغ پیداکوی ، دروغ جوړوی یعنی څه ؟ تاسوچی له الله نه پرته دکوم څه عبادت کوی هغه دعبادت اوپرستش اوستاینی ړندی ، بتان دی اوتاسو پخپلو لاسونو جوړکړی هغوی ته چی څه منسوبوی داستاسو دخپل ذهن اختراع ده تاسو پخپل لاس جوړکړی ، بیاهغه ته دامنسوبوی چی دایې الوهیت اوربوبیت کی له الله سره شریك دی . داستاسو دعاګانو اوستاسو مشکلاتو ته رسیده ګی کوی اوداخدای ته دتقرب او نژدیوالی وسیله ګڼی ، څه چی هغوی ته تاسو منسوبوی داستاسی دخپل ذهن تخلیق دی اوزاده ده ، داتاسوپه دروغو هغو ته منسوبوی انسان باید دهغه چاعبادت اوپرستش وکړی چی هغه ذاتاًدعبادت اوپرستش وړوی . حال داچی تاسوچی دکوم څه عبادت اوپرستش کوی هغه بتان دی «اوثانا» اوانسان باید دهغه چاعبادت اوپرستش وکړی چی دانسان په خلقت اوپیدایښت کی ئی څه برخه او څه اثرری . حال داچی تاسو دابتان پخپله پیداکړی ، نه یوازی دابتان ستاسو په پیدایښت اوخلقت کی څه اثر اونقش نلری بلکی داتاسو په خپل لاس پیداکړی او جوړکړی .

ان الذین تعبدون من دون الله لایملکون لکم رزقاً .

یقیناً هغه چی له خدای نه پرته یې تاسوعبادت کوی «لایملکون لکم رزقاً» نشي توانیدلای تاسوته په رزق باندی . درزق په ورکولو تاسوته نشي توانیدلای ، هغوی ستاسوته په رزق باندی . درزق په ورکولوتاسوته نشي توانیدلای هغوی ستاسو درزق اودروزی مالك ندی . فابتغوا عندالله الرزق واعبدوه واشکرواله .

پس ولټوی دالله په نزدکی خپل رزق «واعبدوه» اودهغه عبادت اوپرستش وکړی «واشکرواله » اودهغه لره شکر اداکړی انسان باید دهغه چاعبادت اوپرستش وکړی چی ده لره درزق اوروزی په ورکولو کی څه اثرلری . حال داچی دابتان تاسولره په رزق اوروزی نه توانیږی . ستاسو درزق اودروزی مالك ندی .

الله جل شانه تاسوته رزق درکوی . تاسوخپل رزق دهغه په نزدکی ولټوی داڅکه اوآسمانونه چاپیداکړی ؟ دڅمکی نه دانه اومیوه څوك راشنه کوی ؟ له آسمان نه اوبه څوك رالوروی ؟ دادرزق اوروزی انتظام تاسولره چاکړی ؟ پدی کی دتاسوبتانو چی ستاسوبتان پرستش کوی پاله الله نه پرته چی دبل چاپرستش کوی څه اثر لری ؟ تاسوخپل رزق دخدای په نزدکی ولټوی اودهغه عبادت وکړی اوهغه لره شکراداکړی . دانعمتونه دالله دی هغه په تاسو پیرزوکړی ، تاسو باید دهغه شکر اداکړی او دهغه عبادت اوپرستش وکړی الیه ترجعون اودهغه طرف ته به ګرځول کیږی . په پای اوانجام کی هم دخدای طرف ته ګرځی . ستاسورجوع هم دخدای طرف ته ده ، باید دهغه چاعبادت اوپرستش وکړی چی ستاسو انجام اوعاقبت دهغه په اختیار کی دی په پای کی تاسودخپل خدای طرف ته ورځی . په دی خاطر یوازې یو الله دعبادت اوپرستش وړدی . هغه چی ذاتاً دعبادت وړدی تاسویی پیداکړی یاست ، تاسوته درزق اودروزی انتظام کوی په پای اوانجام کی هم دهغه طرف ته تلونکی یاستی ددغه خدای عبادت اوپرستش وکړی .

وان تکذبوا فقدکذب امم من قبلکم وماعلی الرسول الاالبلغ المبین .

اوکه تاسوتکذیب وکړی ، له تاسونه مخکی قومونو تکذیب کړی که تاسودادعوت تکذیب کړی ، پیامبران تکذیب کړی تاسو دتکذیب ، دمخالفت لارغوره کړی نول تاسونه دمخه هم لږیرو قومونودپیامبرانو مخالفت کړی ، وګوری چی دهغوی انجام څه وو؟ وماعلی الرسول الاالبلغ المبین . اوندی په پیامبر مګر څرګندتبلیغ .

دپیامبرانو مسئولیت دادی چی هغه به دحق خبره رسوی څوك یې منی ؟! څوك یې نه منی ؟! ددی په باب به له پیامبرانونه تپوس نه کیږی . په څرګنداندازددعوت رسول ، خلکو ته دهغه تبلیغ دپیامبرانو دنده اووظیفه ده اوداچی څومره کسانو دهغو خبره ومنله ، دهغوی ملګرتیایی وکړه ، دهغوی په څنګ کی ودریدل اوڅومره دهغوی مخالفت وکړ، په دی باب هغوی مسئول ندی ، نه ګوری چی نوح علیه السلام چی دخدای پیامبردی نهه نیم سوه کاله قوم ته دعوت اوبلنه ورکوی ، یومحدودڅوتنه دهغه په څنګ کی ودریږی ، ټول قوم دهغه مخالفت کوی ، هغه مسئول ندی دهغه کارصرف دادی چی حق خلکو ته تبلیغ کړی ، حق خلکوته ورسوی څینی کسان کله کله هغه هم دمجبوریت په وجه دمنبراودستیج پرسرودریږی نوپه پای کی خلکوته همداخبره کوی چی وماعلیناالاالبلغ المبین په مونږ باندی صرف همداڅرګندتبلیغ وو اوګومان کوی چی په دی سره دهغه ټول مسئولیت ترسره شوی ، وګوری چی په پیامبرانوباندی همدامسئولیت وو ول هغوی هجرت ته مجبورشوی ، وسلیه یی اخیستی ، دلوم مخالفتونو اوآبتلاثاتوسره مخامخ شوی ، یاران اوملګری یې په شهادت رسیدلی اوهغوی دجهاد، هجرت اودشهادت لاره غوره کړی ، دتبلیغ لپاره ، ددی لپاره چی دین خلکوته ورسوی اودتبلیغ په لاره کی چی کوم خنډونه اوموانع دی هغه لری نه اوچت کړی ، ددی تبلیغ په لاره کی هغوی دا ټول کړاونه اوستونځی ګاللی اوځینی کسان ګومان کوی چی دوی صرف په دی سره هغه هم خدای خبر چی هغه څومره دتبلیغ حق اداکړی اوڅومره یې خپل مسئولیت سرته رسول ، حال داچی هغه هم کله دمجبوریت په وجه یادکومونورو وجوهاتوپه خاطردستیج اودمنبرپه سردریږی اوځوځبری کوی اوپه هغه کی هم هغه دتبلیغ حق نشي اداکولای .

ګومان کوی چی په دی ترتیب دهغه ټول مسئولیت اداشوی دلته مراددادی چی دپیامبرانو دنده داده چی هغه په حق په څرګند طورخلکوته رسوی . دانجام اودعاقبت په هکله هغوی مسئول ندی ، له هغوی نه دخپل دعوت اودتبلیغ دنتائجوپه باب تپوس نه کیږی نتائج به په کاروښواندی الله جل شانه مرتب کوی .

اولم یروا کیف یبدی الله الخلق ثم یعیده

نه ګوری چی الله له هیڅ نه پیدا کوونکی دی ، انسان یې له هیڅ نه پیداکړ ، بیادهغه اعاده کوی، اعاده به دی معنی چی هغه ومري دوباره یې راژوندی کوي یابه دی معنی چی هغه بیرته خپل اصل ته بیرته اعاده کوي ، یعنی هغه پیداکوي ، بیابې دمرګ فیصله کوي اویابه دی معنی چی دلومړي ځل لپاره یې چی هغه سابقه نه درلوده هغه الله (جل شانه) پیداکړ ، دهغه مخکني نمونه نه وه ، له خاورونه یې هغه را پیدا کړ ، بیا ګوري چی دهغه اعاده کوي ، شروع یې یادهغه مکرر پیدایښت اودهغه اعاده به همدي دري معني سره دا عادي مطلب دي ، یا داچی دلومړي ځل لپاره یې پیدا کړي ، بیرته هغه خپل اصل ته چی مرګ اونیستي وه هغه ته یې اعاده کوي ، نه وو، الله پیدا کړ ، مړ و ، داالله ژوندي کړ اودوباره دهغه دمرګ فیصله کوي اویا داچي پیدایې کړ مړي اوقیامت به ورځ به یې دوباره راژوندي کوي اویا دلومړي ځل لپاره یې را پیدا کړ ، بیا ګورېي چي دهغه اعاده کوي ، دنطفي له لارې نه دهغه پیدایښت کیږي ، داد خاورو موادو دداني اودمیوې په شکل چي هغه ورنه استفاده کوي دهغه په وجود کې په نطفې بدلیږي اوله هغه نه دده نسل پیدا کیږي . نه ګوري چي الله (جل شانه) پیدایښت اوخلقت دلومړي ځل لپاره یې اعاده کړیه دتاکي هیڅوك نه ول دهغوي نمونه هم نه وه اوبیا دهغه اعاده کوي .

ان ذلك علی الله یسیر

یقیناً دا اعاده به الله باندې آسانه ده . به الله باندې هرکار آسانه دي ، ګران اوآسان هغه ته برابردي ، اما دخلکو معیارونوکي ګوري چي دیوشي داسې پیداکول چي د هغه سابقه - نمونه نه وي دا ګران دي ، چي که یوځل دهغه نمونه ایجادکړای شي ، بیا دهغه اعاده اوتکرار آسان دي همدا اعاده یه الله باندي آسانه ده .

قل سیروا في الارض فانظروا کیف بدأ الخلق ثم الله ینشئ النشأة الاخرة

ورته ووایه چي په ځمکه کي سیر وکړي وګرځي (فانظروا) بیا وګوري (کیف بدا الخلق) څنګه الله پیدایښت شروع کړ، (ثم الله ینشئ النشأة الاخرة) بیا الله بیدا کوي ، پیدایښت ووروستي دلومړي ځل لپاره الله پیدایښت کوي بیا به دقیامت به ورځ هم، دآخرت به ورځ هم هغوی دوباره له خپلو قبرونونه را پورته کیږي لکه چي به ځمکه کي ګوري شانات زیږ شي ، وراسته شي ، په ځمکه کي تجزیه شي ، دوباره الله به ځمکه باندي باران وواوري، ځمکه وخوځیږي همغه نبات شین کړي ، سر را اوچت کړي اوبه خپل ساق ودریږي ، همداراز به الله (جل شانه) دقیامت به ورځ مړي له قبرونو نه را اوچتوي (وکذلك تخرجون) همدا راز به تاسو هم دقیامت به ورځ له خپلو قبرونونه را ایستلي کیږي به (ان الله علی کل شيء قدیر) یقیناً چي الله (جل شانه) به هر څهٔ قدیر اوتواناذي .

یعذب من یشاء ویرحم من یشاء

تعذیب کوي هغه څوك چي وغواړي اورحم کوي به هغه چا چي وغواړي (والیه تقلبون) اودهغه طرف ته به بیرته ګرځولي کیږي پیدایښت اودهغه اعاده ، دمرګ فیصله اودمرګ نه پس دوباره ژوندون دا ټول دالله کارونه دي ، وبنیلي چي په دي کي له الله سره څوك شریك دي؟ لکه چي قرآن عظیم الشان فرمایي (الله الذي خلقکم ثم رزقکم ثم یمیتکم ثم یحییکم هل من شرکائکم من یفعل من ذالکم من شئ سبحنه وتعالی عمایشرکون)

الله هغه ذات دي چي تاسو یې پیدا کړي ، بیایې تاسو ته رزق درکړ بیا تاسو دوباره وژني ، ستاسو دمرګ فیصله کوي بیا تاسو دوباره ژوندي کوي ، آیا ستا سوله شریکانو نه چي له خدای سره مو په الوهیت اوربوبیت کي شریك کړي داسي څوك شته چي له دغو کارونو نه کوم یووکړي؟

یعني ستاسو پیدایښت ، تاسو ته درزق اودروزي انتظام ستاسو دمرګ فیصله اوله مرګ نه بعد دوباره ژوندون ، به دي کي آیا له الله سره څوك شریك ګوري ؟ «سبحنه وتعالی عمایشرکون » پاکي ده الله لره اواوچت دي له هغه څه نه چي دوي یې له الله سره شریکوي ، ستاسو انجام اوپای هم همداده چي تاسو به دخدای طرف ته دروني ، ځنګه له خدای نه پرته دبل چا عبادت اوپرستش کوي ؟ «وما انتم بمعجزین في الارض ولافي السماء »

اونه یاست تاسو عاجز کوونکي به ځمکه کي اونه په آسمان کي ، نه په ځمکه کي دخدای له عذاب نه ځان ژغورلي شي الله غواړي تاسو تعذیب کړي ، تاسو نه شي کولای چي خدای له دي نه عاجز کړي اودهغه مخي نه ودریږي ا دخدای له عذاب نه ځان وژغوري ا نه به ځمکه کي داسي وسیله اوملجأ میندلي شي اونه به اسمان کي ، نه به آسمان کي الله عاجز کولای شي اونه هم په ځمکه کي .

ومالکم من دون الله من ولي ولانصیر

اونشته دي له خدای نه پرته تاسو لره کوم ولي اونه هم کوم نصیر . دخدای نه پرته نه ولي موندلي شي اونه مرستندوي داسي څوك نشته چي ستاسو مرسته وکړي یاستاسو حمایت وکړي اودخدای له عذاب نه تاسو وژغوري که الله (جل شانه) دتاسو دتعذیب فیصله وکړي نو به ځمکه اواسمانونوکي نه دفرار اونجات لپاره ملجا اومرجع موندلای شي اونه دغسي څوك پیداکولای شي چي هغه ستاسو حمایت وکړي اودخدای له عذاب نه ستاسو نژغورلو په هکله مرسته وکړي (والذین کفروا بآیات الله ولقائه اولئك یئسوا من رحمتي واولئك لهم عذاب الیم)

اوهغه کسان چي دخدای دآیاتونو به نسبت اوله هغه سره دمخامخ کیدو په هکله کفر کوي ، کافران شوي ، نه دخدای په آیاتونو ایمان لري ا اونه دآخرت به ورځ له خدای سره به مخامخ کیدوا همدغه کسان چي دخدای دآیاتونو به نسبت کافران دي اودهغه به ملاقات باور نلري دوي زماله رحمت نه مایوس کیږي . دوي دالله له رحمت نه مایوس دي ، واولئك لهم عذاب الیم) اوهمدا له دوي لره دي دردناك عذاب . یعني یاس اوناامیدي دخدای له رحمت نه نا امیده کیدل ، دا دهغه چا کار دي چي دخدای به آیاتونو باندي ایمان ونلري اوپه آخرت یې یقین نه وي ، څوك چي دخدای به آیاتونو باور اوایمان لري اوپه آخرت یې یقین وي ، هغه نباید دخدای له رحمت نه مایوس شي . هغه باید به هر حالت کي امیدواروي . که ستونځو او کړاونو سره مخامخ ده ، محرومیتونو اومشکلاتو سره باید داده اومطمئن وي ، دخدای رحمت ته امیدواروي اوپه هیڅ صورت کي مایوس نشي یاس اوناامیدي دخدای له رحمت نه دهغه چا کار دي چي هغه دخدای په آیاتونو باندي ایمان ونلري اوپه آخرت یې باور اویقین نه وي اودوي به په دنیا اوآخرت کي له دردناك عذاب سره مخامخ کیږي .

تاسو وګوري چي دابراهیم (علیه السلام) دقوم ځواب دهغه ددي دعوت په هکله څه ... هغه څومره استدلال کوي ا څو دري ... اوږ استدلال سره سره وګوري چي قوم ... سره څه معامله کوي ا هغه ته څه ځواب ورکوي ، ... شي چي تاسو هم کله له دغسي بومشکل سره مخامخ شي ددغسي بولجوج نحافل ،خودغرضه اونابوه قوم سره موسروکاروي . چي ستاسو په خبره نه پوهیږي ، ستاسو استدلال نه مني ، هرڅومره چي ستاسو استدلال قوي وي ،هرڅومره چي تاسو په دقیقو دلائلو باندي استدلال وکړي ، هغه ستاسو خبره نه مني هغه له زوره کار اخلي اوستا سو مخالفت کوي وګوري چي دابراهیم (علیه السلام) په خلاف قوم څه ځواب ورکړي؟

(فماکان جواب قومه الآان قالوا اقتلوه اوحرقوه)

پس نه وو دهغه دقوم ځواب مګر داچي ویې ویل وبي وژني اوبایي وسوځوي ، ټول قوم په دي اتفاق کوي چي باید حضرت ابراهیم (علیه السلام) په قتل ورسیږي ، خوبه دي کي اختلاف دي چي آیا صرف دده په قتل باندي اکتفا وکړي اوکه هغه وسوځوي . بالاخره قوم په دي باندي اتفاق کوي چي هغه ته اوربل کړي اوداور په کنده کي دي ګوزارکړي ، دادقوم ځواب دي . ابراهیم (علیه السلام) به څومره دقیق انداز بت پرستي اوشرك محکوموي اوهغوی دالله عبادت او پرستش نه رابلي ولي قوم هغه نه په ځواب کي همدا وایي چي دا باوژني اوبایي وسوځوي (قالوا اقتلوه اوحرقوه) بایې ووژني اوبایې وسوځوي . دابراهیم (علیه السلام) داستدلال تاسوته معلوم دي ، قوم یې دبتانو پرستش کوي . هغه قوم نه بلنه ورکوي ولي تاثیر نکوي ،تصمیم نیسي چي د هغوي بتان تسکور کړي ، په دغسي یوه ورځ چي قوم دمیلې لپاره له ښاره وتلي هغه بتخانې ته ننوت ، تبر یې په لاس کي ټول بتان یو په بل پسې تسکوروي اوبالاخره تبر دلوی بت په غاړه کي ګوروندي . قوم بیرته راګرځي باید لومړي بتخانې ته ولاړشي اودهغه عبادت وکړي بیا خپلو کورونو ته ولاړ شي . چي کله بتخانې ته داخلیږي ټول بتان تسکورګوري اوتبر دلوی بت په غاړه کي دي چې ګویا دهغه توهین شوي هغه مرید تحقیر شوي اواتهام اوس هغه ته متوجه ده له ځان نه دفاع نشي کولای ټول ګومان کوي چي دا بتان ده مات کړي ، ولي هغه نه قوم نه حقیقت وتلي شي اونه له ځان نه دفاع کولای شي وایي زموږ دخدایانو ، بتانو سره دا معامله چاکړي ؟ په ځواب کي اوري چي یوکس دي . یوځوان چي هغه ته ابراهیم وایي هغه به دبتانو توهین کولو ، دبتانو مخالفت به یې کولو شاید دا کار هغه کړي وي . قوم فیصله کوي چي هغه دقوم مخي ته حاضرشي . هغه راولي ، له هغه نه تپوس کوي چي اي ابراهیمه له بتانو سره دا معامله تاکړي؟! وایي چي داسي معلومیږي چي دا کار به دي ستر بت کړي وي له هغه نه تپوس وکړي که خبري کولای شي !! هغوي وایي چي نه پوهیږي چي دا خبري نشي کولای . ابراهیم (علیه السلام) په ځواب کي فرمایي چي په تاسو اوستاسو په دي بتانو دي افسوس وي ، دهغه څه عبادت اوپرستش کوي چي له ځان نه دفاع نشي کولای ، تسکورشوي اتهام ورته متوجه دي اوس اتهام نشي ردکولای له ځان نه دفاع نشي کولای ، هغه چي نه ضرر رسولای شي اونه دنفع طمعه تري کیدلای شي تاسو ددي عبادت اوپرستش کوي !!

قوم په غصه کیږي اوفیصله کوي چي دا باید په قتل ورسولي شي اوبه اوربابد وسوځولي شي ، زندان ته ګڼي ، بیره مونږ به زندان کي پاتي کیږي نرڅو چي قوم دلوي اور دبلولو لپاره انتظامات نیسي چي کار آماده کیږي هغه له بندیخانې نه راباسي خوبه داسي حال کي چي اوورونه بل شوي ، منجنیق تیارشوي ، چي په دي لوي اورکي به دمنجنیق به ذریعه ابراهیم (علیه السلام ګوزاروي .

په همدغسي حالت کي چي دهغه دمرګ فیصله هم شوي ، هغه دظالم اومستبد حاکم په دربار کي ولاړدي . ټول قوم ددي صحنې لپاره حاضرشوي چي ابراهیم (علیه السلام) به په اور سوځوي په همدغسي یوحالت کي ابراهیم (علیه السلام) وایي چي (ربي الذي یحی ویمیت) زماالله هغه ذات دي چي دمرګ اوژوند فیصله هغه کوي یعني دمرګ اوژوند فیصله ستاسو لاس کي نده ا ددي فیصله په خدای کوي هغه دا یه اومطمئن ده (والله یحی ویمیت) ، (ربي الذي یحیی ویمیت) زماالله اورب هغه ذات دي چي دژوند فیصله هغه کوي اودمرګ فیصله هغه کوي ، هغه به اورکي ګوزاروي ، داور ملګرا ځي اوهغه نه وایي چي زه دالله له طرفه مامور یم او په څه وکړم ابراهیم (علیه السلام) به ځواب کي فرمایي چي هغه څوك چي نه بي والیولي زما به حالت بهتره پوهیږي ا هغه جبرئیل ورله مامورملك نه هم مرسته نه غواړي ، الله ځان نه کافي ګڼي اوهغه نه هم ځواب ورکوي چي هغه ذات چي نه بي اورنه مامورکوي اوالیولي بې هغه زما به حالت پښه پوهیږي قوم ابراهیم (علیه السلام) نه دهغه دعوت اوپلي به ځواب کي همدا وایي ، به قتل یې ورسوي اووبي سوځوي .

(فانجاه الله من النار) پس الله (جل شانه) له اور نه وژغورلو . به بل ځای کي راځي چي کله حضرت ابراهیم (علیه السلام) اورته ګوزارکړای شونو الله (جل شانه) اورته امروکړچي سوړشه اوپام چي ابراهیم (علیه السلام) ته څه صدمه ونه رسیږي دهغه لپاره دسلامتي وسیله ، بالاخره الله (جل شانه) هغه نه په اورکي نجات ورکوي ا کیدای شي چي داسوهم همدغسي به اور نهدیدشي اوله دي نه وبیریږي اوګوري چي ابراهیم (علیه السلام) ته په اورکي الله (جل شانه) نجات ورکړ (فانجاه الله من النار) پس الله (جل شانه) هغه به اورکي وژغورلو اوله اور ځنه بې وژغورلو (ان في ذلك لایات لقوم یؤمنون)

یقیناً به دي کي نښي اوآیاتونه دي هغه قوم لره چي ایمان لري دمؤمن قوم لپاره به دي داستان اوکیسه کي دابراهیم (علیه السلام) به اورکي ګوزارولو اوبیایې اورکي له هغه نه نجات ورکي بشیر اوآیاتونه دي . مونږ اتېنه چي داورا ثرهم دخدای په حکم اوامر سره ده ، که خدای ونه غواړي نه بې سوځوي . بله دانبنه چي ګوري دابراهیم (علیه السلام) به شان ستر شخصیت هم ترد دي حده پوري ابتلاکیږي چي به اورکي ګوزاریږي بس به دي لاري کي ابتلائات اوامتحانونه شته ! دخلکو ابتلاء باید دخدای عذاب ونه ګڼي ، لکه منافقینو چي به ، دخلکو لخوا ابتلاءات او ... عذاب ګڼل . دابراهیم (علیه السلام) به شان ستر شخصیت چي الله ځان نه خلیل غوره کړي اودا اسلامي امت دیلار اوجد لقب یې ورکړي که هغه به لاس اباده شوي اوټول پیامبران ، دهغه به اولاده کي مبعوث شوي ، دغسي یوپوي اوستر شخصیت هم به دغسي ابتلائاتو اوآزموینو ابتلاشوي .

ان في ذلك لایات لقوم یؤمنون . اوګوري چي به اورکي هم الله (جل شانه) هغه نه نجات ورکړ ، نوح (علیه السلام) ته یې دطوفان په څپوکي نجات ورکړ اوابراهیم (علیه السلام) ته یې داوریه لمبوکي نجات ورکړ . کیدای شي چي تاسو هم ددغسي ابتلائاتو سره مخامخ شي ، خو به دي باید ډاډه اومطمئن وي چي نجات اوژغورنه دخدای په اختیارکي ده .

(وقال إنما اتخذتم من دون الله أوثانا مودة بینکم في الحیوة الدنیا)

او وبی ویل خبره دا ده بله نده هغه څه چي له الله نه پرته نیولي به عبادت (اوثنا) بتان دي (مودة بینکم) به سبب دمودت اودوستي خپلو منځونوکي له الله نه پرته موچي کوم بتان به الوهیت اوربوبیت نیولي اوتاسو د هغه پرستش اوعبادت کوي دا موبه سبب دمودت اودوستي پخپلو منځونوکي ندی (مودة بینکم) مودت اودوستي پخپلو منځونوکي یعني څه ؟ یعني ستاسو په منځ کي چي اوس به دي خیل منځي تعلقات او روابط دي ، ددوستي - محبت او مودت دا په بت پرستي اوشرك مبتني دي . دبتانو عبادت او پرستش له تاسو نه یو ټولګي جوړ کړي سله بیوند اورابطه ستاسو ترمنځ دبتانو پرستش اوعبادت دي یوبي معني ده اویا یې معني داده چي اصلا دا بتان تاسوبه دي وجه نیولي چي پخپلو منځونوکي مو دیوبل سره مینه اومحبت درلودلو ، ستاسی به قوم کي نیکان خلك پیرشوي ا له هغوسره مومینه وه ، هغه مړه شوي ، بیامو دهغو مجسمي اومثال جوړکړ ، ددي لپاره چي دهغه خاطره ژوندی پاتي شي اودا خپل احترام اومینه مو دهغو په نسبت ترګنده کړي وي .

دا مینه او احترام په مدار مدار دي حده رسیدلي چي تا سوهمدغه بتان بالاخره له خدای سره به الوهیت اوربوبیت کي شریك کړل یعني مودت اومحبت به خپلو منځونوکي ، به شرك اوبت پرستي بدله شوي نه اکثراً همدغسي شوي ، د بت پرستي اودشرك بنیاد همدغه محبت اومودت دي ستاسو به منځ کي نیکان تیرشوي ، دهغوی سره مو مینه اومحبت و ، هغه مړه شوي ، دهغو بتان موجوړکړي ترڅودهغو خاطره ژوندي وي ، بالاخره همدا مینه - محبت او احترام به شرك اوبت پرستي بدل شوي اودغه بتان موله الله سره به الوهیت اوربوبیت کي شریك کړي .

ددنیا به ژوندکي پخپلو منځونوکي مودت اومحبت دا باعث شوي چي الله نه پرته بتان به عبادت اوپرستش ونیسي .

عاقبت کار مهمانان...

است وبامهمانان همنواوهماهنګ درجهت اعاده رژیم سلطنت وبازګشت شاه مخلوع تلاش دارد، واګر دربرابرطرح مهمانان درکابینه حکومت موقت تردیدی هم که صورت ګرفته ازجانب کسانیکه بامداخله امریکا وحکومت بیطرف مخالف اند بعمل آمده است ، هرچندکه امریکا درقضیه افغانستان بزرګترین مانع تحقق اهدافش حزب اسلامی رامیداند ، خوب شدکه یکباردیګر شانس موفقیت خودرا درقضیه حل زدودانست که غیرازحزب اسلامی دیګران نیزبا توطئه هاودسایس که اصالت انقلاب اسلامی رالطمه دارکند، سرسازش ندارند وبجای جانبداری ازعوامل امریکا درموضع حزب اسلامی قرارمی ګیرند .

نکته جالب دیګر درطرح مهمانان تاخوانده اینکه آقای دکتریوسف طی مصاحبه ای بعدازبازګشت سفرپشاورګفته است که ماخواهان ادامه جهاد ومذاکرات هستیم یعنی تنظیم های جهادی کماکان السابق بجهادعلیه روسیه ورژیم مزدورنجیب ادامه بدهند تاامتیازات بیشتری ازجانب روسها برای مذاکره چیان حاصل ګردد، ولی تنظیم های جهادی ومجاهدین حق شرکت درتعیین سرنوشت وسهمګیری درحکومت آینده راندارند ، بلکه حکومت آینده باید بدست تکنوکرات های بیطرف که ذره یی رنج وزحمتی رادرجریان جهادنکشیده وباخاطرآرام وبامیش وعشرت فراوان درخارج افغانستان بسربرده اند، تشکیل ګردد آیااین امکان دارد فردیکه شهادت وقربانی داده ، ماحصل قربانی اورا فردیګری به ملت صاحب شود؟ مانمیدانیم آقایونی که خویشتن را نخبګان افغانستان بحساب می آورند وازاسلامیت عقل نیز برخوردارند، چطوربخودحق میدهندکه تنظیم های جهادی بعد دوازده سال جهاد، باقربانی دادن یك ونیم ملیون نفروصدهاهزار جانګاه دیګر روسها راشکست بدهندوانقلاب اسلامی را پیروزبګردانند، اما دراخیرامریکه عناصر عیاش ومفسدبه تحریك امریکا باعنوان کردن این بهانه ها داد وفریاد بدهندکه حکومت اسلامی مال همه مردم افغانستان است. رهبران مجاهدین اختلاف باهمدیګردارند، آبادی به کشور متخصصین نیازدارد و.... لذابهتراست تاحکومت بیطرف باچهره های بی تعلق به مجاهدین وکمونیست ها برسرقدرت آید، حقیقت امراینست که روسیه وامریکا بعدازتفاهم ومذاکرات چندین ساله به این نتیجه رسیده اند که کمونیزم درجهان وبالاخص درجامعه افغانستان شدیداً منفوراست ودرفردای سقوط نجیب حکومت اسلامی بدست مجاهدین تاسیس میګردد . چون روسیه وامریکا حکومت اسلامی را دشمن مشترك خودمیدانند لذاترجیح میدهندتاهمان حالت سابق که درآن منافع هردوابرقدرت تامین بود، اعاده ګردد . البته برای اعاده رژیم سابق نه تنها امریکاوروسیه بلکه ګروههای مجاهدنمای وابسته بغرب ، رژیم کابل ، حزب رستګاری ملی ، عناصر تکنوکرات مقیم غرب وبعضی ازکشورهای همسایه بااستفاده از بلندګوهای امپریالیزم همه درجهت اعاده شاه وسلطنت تلاش دارند .امایقیناً که ازلابلای همه این فتنه هاوشرارت ها انقلاب اسلامی بسوی اهداف والایش نزدیك شده ووعده برحق الهی دروارث شدن بندګان صالح خدا(ج) برسرنوشت شان تحقق می یابد .

د نیول شوي کشمیر په...

دکابینې دیوه وزیر په حواله وي چي هندیه بشپړه توګه دجګړي لپاره تیاري نیسي .

خوزه وایم چي آیا جګړه دکشمیر ستونزه آوارولای شي . مانه ددفاع وزیر کي سړي ټیټ وویل چي دجګړي په وخت کي هره ورځ به معمولي ډول شپږ او وه زره ملیونه روپي لګښت راځي ددفاع وزیر چي حسابي شکل را څرګنده کړه که چیري دا ځل جګړه ونښلي نو دوورځي دیرش زره ملیونه روپي لګښت کیدای شي . راجیو وویل پاکستان نه دجګړي ورکولو احضارونه ساته جبره ده ، حوله جګړي پیل کولو مخکي دافکرباید وشي چي موږ له جګړي نه څه نتیجه ترلاسه کولای شو .

زه فکرکوم د وي ، پي سنګهه حکومت به نابوهي جګړي ته ورننوزي .

***

(دیلي تیلي ګراف کلکته ۲۵ مي ۱۹۹۰

زه څو ورځي مخکي دمشهورقلم جوړونکي ملراج بوري سره یوځای نیول شوي کشمیر ته لاړم ، موږ پدي برنالي شوچي کروکټ دل ، زکوره ، سون وار ، سیټ باغ ، نادرګند ، جهونا بازار، زهربل مسجد، ګهربور، بټ مالواو، بیرباغ سیموته پلي سفر وکړو، هلته موږ دهندي پوځیانو په لاسو دوژل کیدو عیني شواهد ، ډیر سخت بډیان ، وهل شوي خلك اووران شوي کلي کورونه په خپلو سترګو ولیدل موږ به هغو ښځو سره هم لیده کاته وکړل چي هندي پوځیانو یې به زور جامي شلولي اووهلي وي اوله هغوسره هم چي دیوځیانو له خوا به زور بې عفته اوبې ستره شوي وي ، اوله هغو ښځو سره موهم لیده کاته وشول چي دزړه نړوني ، د سرسیوري اوځوان ورونه یې دهندي امنیتي پولیسو یواسطه غلبل شوي وو .

په جموکي موله کشمیري هندوانو سره هم ولیدل ،هغوی ویل چي موږ له کشمیري مسلمانانو نه ګیله نه لرو، موږ فقط دجهاد له نارو اوډګولیو له درزهار څخه ویري اخستي اوجموته راغلي یو دسرینګر نارینه و ، ښځو اوځوانانو به هرځای کي د موږ آزادي غواړو موږ خپل ځان نه خپلواکي غواړو شعارونه یورته کول . په خپل پیغام کي یې به څرګندونکوکي ویل موږ غواړو چي دا انسان وژونکي بندیز ختم شي ،زموږ دورځنۍ ژبا وځیرونه خو پیریږده چي موږ ان دخپلو شهیدانو لپاره کفن هم نه شوا خستی

هندي حکومت دغه ټکي باید په پام کي ونیسي چي دامنیتي پولیسو ظلم ، بې ځایه ډزي کول ، دبي ګناه خلکو نیول اوځورول ، دسیمي په لیري لیري زندانونوکي دخلکو اچول ،له زندانیانو سره غیر انساني رویه کول دا ټول بې معني اوبي ګټي دي . موږ دخپل سفر به وخت کي داڅه محسوسه کړه چي دکشمیرولس ترورسټي سلګي پوري جګړه ته تیاردي له افغانستان نه دروسي پوځ وتلو به څیڅ اروپا اوخپله روسیه بدلیدونکو حالاتو نه یوازي داچي کشمیري ولس متاثر کړي بلکي خپلواکي غوښتونکي یې تري جوړکړي

مشهورهندي ژورنالست اندرموهن له دابري څخه اقتباس «د مین استریم » اونیزه ۱۷ اپریل ۱۹۹۰

قطعنامه

بسم الله الرحمن الرحیم

ولاتنازعوافتفشلواوتذهب ریحکم .

انقلاب وتحول عظیمیکه درطي بیش ازیک دهه مقابله نابرابربادشمن درفرجام، بیاری الله (ج) وهمت سترگ ومقاومت شجاعانه فرزندان دلیرمیهن ما، دشمن روسی را طردنموده بازوال روبروساخت . اکنون ازجانب دشمنان رنگارنگش تهدید میشود تادرخت پربارش به ثمرننشیند، میکوشند نیروهای حیات بخش انقلاب را ازتوان پیروزی وپیش روی وسازندگی بازدارند . ماخطرهای درکمین نشسته دشمنان را ازچپ وراست درک کرده ایم ، خطراتیکه انقلاب را باتمام قدرتش تهدیدمیکند .

دشمنان سوگندخورده اسلام سعی دارند ملت مظلوم مارا بامشکلات عظیمی بیشترازآنچه تحمل کند مواجه سازند . ماباید براین مشکلات فایق آئیم ، وآنچه همه ازانجام آن ناتوان مانده اندبه انجام رسانیم پیکارمقدس دوازده ساله برای ماپارسنگین بود ودرتاریخ کهن این سرزمین باستان نقطه عظیمی رانشانه گذاری نمودوتجربه یی بی بدیل به بشریت باقی گذاشت .

همچنان به دشمن مصیبتی بودکه شیرازه حیات معنویش راازهم درید، وفرجام فرهنگ هفتادساله اش را از کره زمین برچید .

حال که میرودتابعداز دوره های طولانی ازتاریخ کشورکه درفقرومصیبت وعقب مانده گی وحاکمیت غیرمردمی گذشته ، مردم لذت بدست گرفتن سرنوشت خودرا بچشندوبرای اولین باراحساس آزادی خواهی نمایند، هردوابرقدرت خونخوارشرق وغرب ، مذبوحانه درتلاشندمسیر انقلاب بهرقیمت ممکن منحرف ساخته وباردیگر پیروزی رابه تاخیر اندازند ،ودست پروردگان سابقه داراجنبی پرست شانرا برجامعه ماحاکم نمایند، اما :

زهی تصورباطل وزهی خیال محال .

مانرماندهان وقومندانان حزب اسلامی که درطی دوازده سال جهاداسلامی وباامکانات ناچیزوتجربه محدودنظامی دربرابردشمن بحکم خداوتحت رهبری قاطعانه حزب ایستادگی کرده ایم تایکقطره خون دربدن داریم نخواهیم گذاشت ، دشمن شکست خورده و درحال نزع بیاری وهمکاری سائردشمنان باردیگر سرما چیره شود .

سیمیناریکه ازجانب مقامات محترم حزب وبه دستورشخص محترم امیرحزب اسلامی درفندقتح برای مدت سه روز دایرگردید، بسیارسترگ وآموزنده وبالنده و پربار بود .

دراین سیمینارپزرگ وتاریخی که درفضای آزادوبرادری دایرگردید ، باردیگری این امتیازحزب به نمایش گذاشته شد که تصامیم حزب دسته جمعی بوده ، افرادحزب جرأت ودرایت تجدیدنظردرروش ها، قدرت ابتکار، اعتراف به اشتباهات واصلاح آنرادارند دراین سیمینارپزرگ جدی بودن شرایط واوضاع به تفصیل نمایان گردید ونشان داده شد که تاچه حداوضاع حساس وقابل درک است وتاچه پیمانه تحول وتغییردرهمه ابعادمبارزه راایجاب می کند .

بحمدالله حزب آن نیرووجسارت راداشت تااوضاع راآن چنان که هست اشاوت کندودرک نمایدومطابق به آن مواضع جرئتمندانه ودقیق اتخاذنماید .

درک ازشرایط عینی وحساس کنونی برای تشدید عملیات نظامی وفشرده نمودن صفوف نیروهای رزمنده درجبهه وپشت جبهه که حزب درتمامی دوران پرفرازونشیب انقلاب طلایه دارآن بوده وبرای ایجادوحدت مشکلات عدیده رامتحمل گردیده است ، یکی ازمحورهای بحث قرارداشت .

ماحصل سه روزبحث گسترده درپیرامون تمامی اوضاع ، شرایط ، مواقف ومسایل بیرونی ودرونی کشوروانقلاب

ص ٤)

نمونهٔ تجاوز امریکا برپانامه

طي عمليات پیروزمندانه مجاهدين ٦٨ نفر از صاحبمنصبان وعساکررژیم کابل به هلاکت رسیدند

پروان : مجاهدین مؤمن حوزه شلق حزب اسلامی افغانستان درپروان توانسته اند ضمن عملیات جهادی شان ۱۷ تانک زرهی وموترمهمات رامنفجرسازند و٦٨ تن ازصاحبمنصبان وعساکررژیم مزدورراپه هلاکت برسانند .

طبق گزارشهای واصله : برادرانجنیرصاحب محمدطارق مسئول حوزه شلق طی راپورمورخ ۳ سرطان سال جاری گفته است که مجاهدین دلیرحوزه شلق دراپل ۲ بر۳ سال ٦٩ بالای قرق قلعه سرخ که درداممنه کوهای ساحات جبل السراج موقعیت داردعملیات پیروزمندانه جهادی انجام داده اند .

طی این عملیات پیروزمندانه ۱۷ عراده تانک زرهی وموترحامل مهمات نظامی منفجرشده و بکل ازبین رفته است .

همچنان یک دیپوی مهمات نظامی قرقه قلعه سرخ به آتش کشیده شده که انفجارات مهیبی به اثرآن رخداده است .

گزارش حامی افزاید: بفضل خداوندمجاهدین شامل عملیات باعافیت بمراکز وقرارگاههای شان برگشته اند .

حسني مبارك وحافظ الاسد ملاقات نمودند

قاهره : ١٤ـ سرطان :

حسني مبارك رئیس جمهور مصروحافظ الاسد رئیس جمهور سوریه دراسکندریه شهرساحل مصرباهم ملاقات نمودند .

سپس درین دیدار مامورین عالیتربه جانبین به شمول نخست وزیرووزیرخارجه مصرهمچنان معاون ریاست جمهوری سوریه نیز اشتراك نموده ، بودند .

به گزارش آژانس شرق الاوسط، دورهبر درین دیداروی مسایل تجارتی، بین الملل ، ذات البینی وخصوصاً مشکلات فلسطین ، بحران لبنان وضع خلیج بحث وگفتگونمودند .

***

رژیم پریتوریا سه نفرسیاه پوست را به قتل رسانید

به اساس گزارش دستگاه سخن پراگنی افریقای جنوبی روزپنجشنبه سه نفرسیاه پوست درناتل، بعدازگزمه قوای مدافع حین برخورد باکمین هدف گلوله قرارگرفته ازپا درآمدند .

منبع علاوه می کند، قوای مدافع نیز درین موقع ازطرف مقابل هدف آتش قرارگرفت .

منبع ازتلفات قوای مدافع تذکربعمل نیاورده ولی گفته است که درین حادثه ۲۷ خانه مسکونی طعمه حریق شده است ، که این خود دال بروحشت رژیم متفوریریتوریااست .

***

مليشاهاي مسيحي تقاضاي دولت لبنان را رد نمودند

بیروت : قوای ملیشای مسیحی لبنان تقاضای دولت را مبنی برخروج آنها ازغرب بیروت ردنموده گفتند تازمانیکه نیروهای طرفداررهبرنظامی جنرال میشل عون درشهرموجودباشند ایشان عقب نشینی نخواهندکرد .

جگرن فوادملك یکتن ازقوماندانان واحدهای ملیشیاگفت : تازمانیکه ازنیروهای غیرقانونی درپایتخت استفاده شودمنطقه راتخلیه نخواهم کرد. ملك ، حین سخنرانی دریک دستگاه رادیوی که متعلق به ملیشیا حامی باشد بااشاره به قوای میشل عون گفت که آنها دربخش بزرگی ازمناطق مسکونی مسیحیان درپایتخت مستقرمی باشند .

عون طرح برج اکتوبرپارلمان لبنان درشهرطایف عربستان سعودی مبنی برخروج سی وپنج هزارعسکرسوریه ازلبنان را ردنمود . وی همچنان از برسمیت شناختن هراوی وکابینه وی انکارنمود .

که غواړي صدراعظم پاتي شي نوزماشرايط ومنه "

لاهور: که غواړي صدراعظم پاتي شي نوزماشرطونه قبول کړه، هندي اخبارونه خبرورکوي چي دصدراعظم دمعاون دیوی لعل اوصدراعظم وی پی سنگ دشپږو اترو په لړکي دیوی لعل صدراعظم ته اخطارورکړچي ستاحکومت زماله برکته پرځای پاتي دی ، نو زماشرایط ومنه .

پخوا وي پي سنگ اعلان کړی وچي په هیڅ صورت به هم ددیوی لعل زوی دهریاني داخل وزیرپه توگه ونه ټاکل شي، خودادی اوس وی ، پس سنگ دیوی لعل ته زلگون ورواده اودهغه زوی بي بوځل بیادهریاني داخل وزیرپه توگه اعلان کړ.

هندي ورځپاڼي پوښتنه کوي چي وي پي سنگ به دپاکستان په باره کي څه وکړي ، پداسي حال کي چي هغه دیوه ایالت غداراوخائین اعل وزیرنښې لری کولوی ؟ ورځپاڼي عقیده لري چي له خپلواکي وروسته دادهند په تاریخ کي کمزوري حکومت دی . کیدای شي ددی له امله هندټوټي ټوټي شي . خالستان ، ټپول شوی کشمیر اوناگالیندبیل شي، ددیوی اعل له شرطونو منلو وروسته ، یوول هندي مشرایدوان هم غوښتنه کړې چي شرائط يي ومنل شي، همداراز کمونست گوندهم له وي پي سنگ نه غواړي چي شرائط یي ومني او کنه نوحکومت به یي له سقوط سره مخامخ شي .

تامليباغيانو دوه سومسلمانان په شهادت ورسول

کولمبو: له سریلانکانه په رارسیدلو خبروتوکي ویل شوي چي په ختیزه سریلانکاکي تامل باغیانو دوه سوه مسلمانان په شهادت ورسول، په دله سیمه کي دولتي قرارگاوي تل دتامل باغیانو ترحملولاندی وی . دسریلانکا دمسلم کانگریس رکن حزب الله یوه مطبوعاتي ویناکي ویل چي هغه ته له یوه نظامي قرارگاه نه داخبررارسیدلی چي شوورشي مخکي شردوسوزیات مسلمانان دموترپرواسطه له کولمبوئه خپلوکوروتوته روان وچي په لاره کي دتامل باغیانو له خوا پری بریدوشواو ۲۰۰ تنه یي په شهادت ورسول . ویل کیږي چي مسلمانان دباغیانو له ویری اکثروخت په خپلوکوروتوکي دزندانیانوپه شان ژوندکوي .

اعلان شموليت

به اطلاع عموم طلباء دینی رسانیده میشودکه : جامعه امام محمدالشیباني (ح) طبق معمول سرازتاریخ اول الی اخیربرج اسدسال ۱۳۶۹ به ثبت نام آغازمینماید .

طلباء گرامی می توانند درمیعادمذکره جهت ثبت نام به اداره جامعه تشریف آورند .

شرائط قبول :

۱ـ فارغین صنف دوازدهم مدارس دینی ویامعادل آن

۲ـ اخطارتزکیه ازتنظیم مربوطه

تاریخ اخذامتحان کانکوربعداً اعلان میگردد .

آدرس : شمشتو ـ نصرت مینه ـ وچ نهر ـ مسجدجامع امام محمدالشیباني (رح) اداره جامعه .

خبرتیا

تولودیني طالبانوته خبرورکول کیږي چي دامام محمدالشیباني جامعه دمعمول سره سم د۱۳۶۹ کال دزمري دمیاشتي د لومړی نیټي نه ترآخره پوري دنوم په ثبتو ولوپیل کوي محترم طالبان کولای شي چي دنوم دثبتولو لپاره په ذکرشوي نیټه د جامعي اداري ته تشریف راوړی .

دقبلولوشرائط :

۱ـ ددیني مدارسودولسم صنف فارغان اویامعادل دهغو

۲ـ دخپل تنظیم نه دتزکیي خاشرول

دکانکوردامتحان نیټه به وروسته اعلانیږي

پته : شمشتو ـ نصرت مینه ـ وچ نهر ـ دامام محمدالشیباني (ح) جامع جومات دجامعي اداره

تبديلي نام

برادرسربال ولدمحمدرستم سرمعلم مدرسه شهیدعبدالباقي نام خودرا به محمدسهراب ولد محمدرستم تغییرمیدهد .

ازدوستان آرزومنداست بعدازین وی را بنام محمدسهراب بشناسند .

***

برادرعین الله ولدمحمدانور مسکونه ولسوالي سرخرود ولایت ننگرهارمعلم صنف ششم مدرسه سعدبن معاذ اسم خودرا به عین الدین تبدیل نموده است .

از دوستان خواهشمنداست تامبعد برادر موصوف را به اسم عین الدین بشناسند .

دایران زلزله ځپلوته دبهرنیوهیواد مرستو بهیروان دي .

شهادت

بیانگرعقاید وآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

موسس : انجنیر حکمتیار

صاحب امتیاز : حزب اسلامي افغانستان

ناشر : ریاست ارشاد وفرهنگ

سال تاسیس : ۱۳۵۷ هجري شمسي

تحت نظرهیئت تحریر

دیدارکول از مسکو قبل از گفتگو هاي (۲+٤)

اهموت کول مستشارآلمان غربی بامانس ویتریش جنشروزیرخارجه ومهندس دیپلوماسی آلمان جدید بعداز انهدام دیواربرلین به سرعت به مسکورفتندتاقبل ازاجتماع (۲+٤) در۱۷ جولای درپاریس نقطه نظرآلمان را مطرح وبااتحادشوروی درمورد تبادل افکارنمایند .

کول درین سفرباخودسه ورق حامل فیصله هارا خواهدداشت .

ورق اول ورق دپان است که درآن نتائج اجتماع اروپائي واستعداد کشورهای اروپای غربی برای کمك به نظام دیموکراسی دراروپای شرقی درج می باشد هم چنان درین ورق تصریح شده که آلمان گازطبیعی راازاتحادشوروی واردنماید والمان بتمام به موافقت نامه های تجاری که موسکو براین قبل ازانهدام دیوار برلین منعقدساخته بودندوفانماید .

ورق دومی بنام ورق ناتواست واین ورق شامل دعوتی است که برای نخستین مرتبه پیمان اتلانتیك شمال ازاعضای پیمان ورشو بعمل آورده است که دراجتماع ناتوکه درروزهای آینده دربرکسل دائرمیشوداشتراك ورزند وهم چنان درین ورق مفادبیانیه اختتامیه لندن که درمورد اسلحه دروی می باشد تذکاریافته است .

ورق سومی موسوم به ورق هیوستن که سران کشورهای صنعتی درچندروزگذشته درتکساس منعقدساخته بودند، می باشد .

اکنون هلموت کول بعدازاجتماع هیوستن باپنج ملیاردمارك المانی که در بکس دستی اش داردبه شوروی رفته است واین کاردلات به حسن نیت بسن داردوحسنی خواهدرضایت اتحادشوروی راقبل ازانعقادجلسات (۲+٤) بدست آورد وهم نشانه آن است که بن مطمئن است که مجموعه کشورهای اروپائي درآخر امسال درمورد برنامه کمك های خاص برای اتحاد شوروی توافق خواهندنمود .

کول ازگرباچوف چه می خواهد ؟

این دیداراندکی پیش از ایام آغازتعطیلات تابستانی حکومت المان میباشد که بعداز چندماهی شاهدتحولات خواهد بودکه کسی توقع آنرا ار.

سعی کول درین دیداراین است که مباحثات (۲+٤) المان شرقی وغربی اتحاد شوروی ، ایالات متحده امریکا ، فرانسه وانگلستان) به نتیجه برسند درین مذاکرات پولاینډنیز بخاطرمسئله حدود غربی اش باالمان که بنام حدود(اودروناپس) معروف است ، درپاریس اشتراك می کند . دول پیمان اتلانتیك ،راجتماع لندن شرایط نموده اند که بعدازانجام یکجائي دوالمان نیروهای پیمان به اراضی المان شرقی نروند .

ازجهت دیگر کول برسمه کمك اقتصادی راازطرف کشورهای اروپائي بخاطر آنکه شوروی را درسیاست بازی اقتصادی که معین کرده است همکاری کرده باشد مطرح می کند .

آنچه برای بن اهمیت دارد کمك مسکواست واقتصاد شوروی جانب مهم مباحثات (۲+٤) پنداشته می شود والمان سعی می نماید تاپیش ازتاریخ برگزاری مباحثات ارتباطاتش راباماسکو توسعه بخشد تامسکوبه حرولیکه المان می خواهد، درمذاکرات آینده نقطه بگذاردیعنی مطالب ودرخواست های المان راقبولدانی نماید .

به همین خاطراست که دراجتماع هفت های گذشته المان سعی کرده است که رضایت مسکورابدست بیاورد تااتحاد دوالمان درآخرسال تحقق بیابد .

لیبیا او سودان

کیږی خوځرنگ چي پدی اړه دتورافریقایي هیوادواطمینان ترلاسه کول هم لازم دی نو دپریکړی لاسلیك ځنډیدل دی .

مذاکرات

درافغانستان گردد میباشد .

نمایندگان الفتح خویش درپشاوربا صبغت الله مجددی ملاقات نمودند . وبه دعوت استادسیاف درکابینه حکومت موقت نیز اشتراك ورزیدندکه دراین جلسه دوطرف مذاکرات طولانی انجام دادند لیکن این مذاکرات بنابرسه دلیل به ناکامی مواجه شد .

۱ـ حکومت عبوری به طرح پیشنهادی خود پافشاری می ورزید ، درحالیکه حزب وحدت اسلامی اصرارداشت تاطرح جامعی ترتیب شود تاتوافق تمام نیروهای جهادی را دربرداشته باشد .

۲ـ حزب وحدت اسلامی میخواست تاموضوع اشتراك ویاعدم اشتراك زنان درانتخابات که آیاحق رای دهی رادارندیانه قبل ازشروع سلسله انتخابات واضح گردد .

مولف حکومت موقت این بودکه دراینمورد بعداً فیصله صورت می گیرد .

۳ـ حزب وحدت اسلامی علی اوزمول خویش اظهارداشت که هرکه افغان ومسلمان باشد میتواند درانتخابات آینده افغانستان حصه بگیرد .

حکومت عبوری چندوزارت را به گروه های مقیم ایران پشنهادنمودکه حزب وحدت این پیشنهادرا ردنموده وگفت دولت عبوری یك دولت غیرفعال میباشد .

اعلان کانکور

پوهنتون دعوت وجهادبرای سال جدیدتعلیمی (۱۳۶۹ ـ ۱۳۷۰) هجری شمسی مطابق به (۱۴۱۰ ـ ۱۴۱۱) هجری قمری به پوهنځی های شرعیات واصول الدین شاگردمیپذیرد .

تاریخ امتحان کانکور: ۱۹ اسد ۱۳۶۹ هجری شمسی

تاریخ ثبت نام : از ۱۹ جوزا ـ ۱۵ اسد

شروط قبول :

۱ـ داشتن سندفراغت ازمدارس ثانوی مهاجرین ومعادل آن

۲ـ اخطارورقه تزکیه ازتنظیم های جهادی مربوطه

۳ـ دوقطعه عکس

سوالات امتحان کانکورازمضامین ذیل انتخاب میگردد .

تفسیر، حدیث ، فقه ، اصول فقه ، عقیده ولغت عربی یادداشت :

۱ـ امتحان معادله (خصوصی) ازتاریخ ٦ اسد آغازمی گردد .

۲ـ شاگردانیکه سال گذشته به پوهنځی های شرعیات ، اصول الدین ، طب وتعلیم وتربیه قبول ولی به دروس خویش حاضر نگردیده اند، هرگاه تااول سنبله ٦٩ به پوهنتون حاضرنشوندحق شمولیت شان سلب می گردد وبه عرض آنها برادران دیگر ازطریق امتحان کانکورامسال پذیرفته خواهند شد .

آدرس : هجرت کیل ، چراغ روډ، کمپ جلوزی ، پبي ، معاونیت امورمحصلین پوهنتون »

پوست بکس : (۱۰۲۸)
یونیورسټي ټاون پشاور
تلفون نمبر : ٦٣٧٨٩ ـ
30224 پشاور

هغه کسان چي زموږداسلامي انقلاب په سرنوشت دلوبوکولو جرئتکوي هغوي به انشاءالله خپل سروخوري